مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۴/۰۳/۲۳

# د مذهبي ډلو ترمنځ د اختلاف لاملونه

د اردن د الدستور ورځپاڼي یوه مقاله لیکي: «حضرت پیغمبر (ص) ته لومړنی وحي د اقرأ (ولوله) په حکم سره راغلی ده، الله تعالی په قلم لوړه کړې او یو سورت یې د قلم په نوم نومولی دی، مګر د قرآني امت ۴۰ سلنه سړي او ۶۵ سلنه ښځې لیک او لوست نه شي کولای». د کډوالو اداره وایي: په نړۍ کې د ۱۰۸ ملیونه بې کوره شوو وګړو ۶۱٪ یې مسلمانان دي او په الجزیره کې لولو چې د ټولې نړۍ ۳۹٪ فقیران او بیوزلي خلک په اسلامي هیوادونو کې اوسیږي. له همدې وجې د ټولنپوهنې متخصصین او د مذهبي چارو څارونکي باور لري چې د خلاف، اختلاف او اختلاس وَبَا په همداسې کم سواده، سنتي او مذهبي ټولنو کې ډیر چټک پرمختګ کوي او د تشدد ریښې مزبوتیږي. ځکه چاپیریال او تعلیمي نصاب د انساني کرکټر او شخصیت په جوړوني کې مهم رول لري.
ابن ماجه د حدیثو په خپل کتاب کې روایت کوي چې پیغمبر صیب فرمایي: (زما امت به په ۷۳ ډلو ویشل کیږي، ۷۲ ډلې به یې په اور کې وي او مازې یوه ډله به جنت ته ځي. بیا ترې پوښتنه وشوه چې ای پیغمبره دغه به څوک وي؟ ده ځواب ورکړ؛ همدا ډله چې زه او زما ملګري دي). دلته خبره د نبي په نبوت او صداقت کې نه ده ځکه هغه رښتینی دی، بلکي پوښتنه د راوي په روایت کې ده چې دغه یواځینی جنتي ډله به څرنګه پیژنو؟ د نژدې دوه ملیارده مسلمانانو ۸۹٪ سنیان او ۱۱٪ شیعه یې ګان دي. د دواړو ترمنځ پراخه عقیدوي توپیرونه له دوهمې هجري پیړۍ څخه را روان دي او ښایي ترقیامته همداسې ماشوره پاتې شي. همدا نن له درې سوو څخه زیاتې سني ډلې او طائفې دي او له ۴۱ څخه ډیرې شیعه فرقې دي چې ما پخپل وروستي کتاب (تصوف؛ روحانیت او کرلیچونه) کې په دې موضوع باندې بحث کړیدی.
زموږ زیاتره خلک دین او مذهب په یو مفهوم پیژني، په داسې حال کې چې دین د خالق قانون دی او مذهب د امامانو اجتهاد او تخلیق. د فقهاوو، صوفیانو او سیاسي اسلام د پلویانو ترمنځ اختلاف هم اجتهادي دي، هم فکري او هم سلیقوي. د اختلاف یو عمده لامل دا دی چې کله یو مجتهد کوم روایت او سند ترلاسه کړي او بل مجتهد نه وي میندلی، نو طبیعي ده چې هغه ورباندې حساب نه کوي او کمزوری یې بولي. بل لامل یې د مجتهد د پوهې او فراست کچه ده چې د استنباط څومره وړتیا لري؟ سلفیان یا اهل حدیث د څلور واړو مذاهبو له پیروانو سره فکري توپیر لري او ځانونه د سلف صالحین اصلي وارثان ګڼي. د دوئ انګیرنه داده چې هرڅه په قران او سنت کې شته، نو قیاس او اجماع ته څه اړتیا ده؟ په مقابل کې یو شمیر مذهبي کړۍ دومره تنګ نظری دي چې وایي د مذهبي ښځې سره د بې مذهبه سړي واده نه کیږي؟
موږ په خپلې ټولنې کې داسې مذهبي وګړي لرو چې حتی د خِلاف او اختلاف په معنا سم نه پوهیږي. خلاف د توافق نه شتون ته ویل کیږي، یعنی د هرچا خپله لاره، خپله یې خوښه. خو اختلاف فقهي مسئله ده او د یو حکم په اړه د جلا نظر او فکر درلودل دي. د دوئ ترمنځ سلیقوي برخورد له همدې ځایه پیل کیږي چې د اصل او متن په ځای په حاشیو، کرامتونو او د خوبونو په لیدلو باندې لنګر اچوي. پخپلو منځونو کې په ډیرو سطحي او فروعي مسائلو باندې مناظرې کوي. یو انبار کتابونه یې مخې ته ایښي وي، یوه ډله وایي چې مړي په قبر کې خبرې اوري، مقابل لوري یې ردوي چې فلانی فتاوا لیکلي چې بالکل یې نه اوري؟ یو مفتي وایي تراویح شل رکعته دي، بل وایی اته دي؟ دریم یې له سره مني نه چې تروایح به کې لا چا راویستې دي؟ نو دا ډول مناظرې د چا آخرت ته څه ګټه لري او په دنیا کې د کوم مرض دوا دي؟
د دوئ اختلاف د تفسیر او تعبیر په هکله هم ژور دی؛ د بیلګې په توګه: په قرآنکریم کې د عراق د بابل په ښار کې د هاروت او ماروت یادونه شویده. څه مفسرین وایی چې مطلب ورڅخه ملائکې دي، نور وایي هدف ورڅخه دوه شیطانان دي، دریم ګروپ وایي چې دغه دواړه بزرګان وو او څلورمه ډله دعوه لرۍ چې ګوندې دوئ کوډګر وو. نو اوس سړی حیران شي چې د چا ومني؟ د تصوف او عرفان د مریدانو ترمنځ هم پوره واټن پروت دي او د شیخ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوتاد، مرشد، ولي، قطب او غوث په مرتبو او مقامونو باندې نه جوړيږي. هرچا ته خپل پير رسيدلی او نازولی ښکاري؛ بس چي کچکول ښکته کړي د سترګو په رپ کي د دولسو کالو ډوبه شوي بيړۍ او په هغه کي غرقه شوي ناوې سره له سينګاره ژوندۍ راباسي! تيره شپه مي په يوټيوب کې د توري پګړۍ يو آخند ليده چي وايي: (خداوند هر شب جمعه از عرش معلی به کربلا می آيد و هفت بار از قبر مطهر امام حسين طواف می نمايد) !؟

د اختلاف بله وجه د ټکنالوژۍ په نړۍ کې له عصري وسائلو سره نابلدي ده چي د مذهبي طبقي اکثره خلک ورسره ناشنا دي. تازه په تازه، يو مشهور شيخ صيب وويل چي په يوټيوب، ګوګل او فيسبوک باندې روژه ماتيږي؟ په داسي حال کي چي خپله ويډيو يې په فيسبوک او يوټيوب کي خپره کړيده. د اختلاف بل لامل د نظام او حکومتولی په اړه دی چي اسلامي جمهوريت، که امارت يا خلافت؟ په دې هکله يې باورونه دومره مختلف دي چي هميشه غوټه د لاس په ځای په غاښ خلاصوي او د ميز خبره مورچل ته بيايي او د فتنو او وينو تويولو لامل ګرځي.

جالبه او په عين وخت کي د درد خبره دا ده چي يو شمير مذهبي کړی استدلال کوي چي په حديث کي راغلي (اختلاف أمتي رحمة). خو دا په پيغمبر باندې چورلټه دروغ او بهتان دی؛ ځکه اختلاف عذاب دی او هيڅکله د ولسونو لپاره د خير ښيګڼي پايلي نه لري. يوه غټه ستونزه دا هم ده چي ځيني مذهبي ستي د زغم او پخلاينې په ځای سرتمبګي کوي، يوازې خپله خبره ورته ميره ښکاري او د زماني غوښتني بابيزې ګڼي. کله ناکله خو يو بل ته د مرتد، منکر، زنديق، خوارج او جاهل القاب هم کاروي چي يقينا په عوامو کي د دوئ په اړه منفي ذهنيت رامنځ ته کوي او روحاني حيثيت ته يې صدمه رسوي.

د لمر په څير ځليدلی حقيقت همدا دی چي د مذهب پرستی په ځای خدای پرستي، د تشدد په ځای اعتدال او د ټوپک په ځای قلم زموږ د ټولو رنځونو درمل دی. کنه نو، دا قرآني امت به د کور دننه د خپلمنځي اختلافانو، فقر او جهل په تنور کي سوځيږي او په نړيوال ستيج به يې وزن د ښکي په څير وي چي په خوله به يې څوک پياز هم نه خوري. نوی کال مو بختور!

---

په منني سره: ما په دي ليکني کي د اردن د الدستور له ورځپاني، سي ان ان عربي، د ICESCO سازمان او الجزيرې ټلويزيون د يوې څيړني څخه استفاده کړيده. که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نوري ليکني او څيړني د هغه په فيسبوک او يوټيوب چينل کي ولولي او وګوري. ادرس يې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ